۴. اړوندې ادارې دې لګول شویو تورونو ته په وخت سره د نه لاس رسي موضوعات د خپل باصلاحیته استازي له خوا د عالي شورا د همغږي په غونډو کې چې د سترې محکمې په مقر کې جوړېږي، طرح او د حل بنسټیزه لاره دې ورته ولټول شي.

۵.لګول شویو تورونو ته د نه لاس رسی ستونزه او د هغې په هکله د پرېکړې صادرول باید د سترې محکمې د عالي مقام له لارې د نافذه قوانینو د حکمونو په مراعاتولو سره حل شي.

۶. د اعتصاب کوونکیو بندیانو هغه کس دې چې د باصلاحیته استازي د معلوماتو پر بنسټ یې د خپل بند موده یې لا د مخه پوره کړې ده، باید له ځنډ پرته خوشې شي او د نورو اعتصاب کوونکیو د لاملونو د تثبیت له پاره دې د اړوندو ادارو باصلاحیته استازي چې په سیمه کې شتون لري، د نظامي پولیسو د لوا مرستیال په مشرۍ وګمارل شي او ژر تر ژره دې په دې اړه خپلې مشخصې نظریې کمیسیون ته وړاندې کړي چې په اړه یې تصمیم ونیول شي.

محکوم بهای محاکم ابتدائیه و استیناف وجود نداشته باشد.

۳. در جلسات بعدی که در ارتباط به زندانیان دایر می شود، نماینده با صلاحیت ستره محکمه و انجمن مستقل وکلای مدافع نیز دعوت شوند.

۴. ادارات ذیربط موضوعات مربوط به عدم رسیدگی به موقع اتهامات وارده را از طریق نماینده با صلاحیت خویش در جلسات شورای عالی هماهنگی که در مقر ستره محکمه دایر می شود، طرح و راه حل اساسی از آن طریق جستجو شود.

۵. مشکل عدم رسیدگی به موقع اتهامات وارده و صدور فیصله پیرامون آن باید از طریق مقام عالی ستره محکمه با رعایت احکام قوانین نافذه حل شود.

۶. یک نفر از محبوسین اعتصاب کننده، که میعاد معینه حبس خویش را قبلاً به استناد معلومات نماینده با صلاحیت زندان بگرام سپری کرده است، باید بدون معطلی رها شود و در زمینه تثبیت علل و عوامل اعتصاب غذایی زندانیان باقیمانده، نمایندگان با صلاحیت ادارات ذیربط که در محل حضور دارند، تحت ریاست معاون لوای پولیس نظامی توظیف و نظریات مشخص خویش را هر چه عاجل به کمیسیون ارائه بدارند تا بعداً تصامیم لازم اتخاذ شود.

**۲۴مه شمېره:**

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د ۱۳۹۰/۸/۲۲ نېټې د عادي غونډې مصوبې.

د اساسي قانون پرتطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په ۱۳۹۰/۸/۲۲ نېټه د کميسيون د رئيس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او غړيو په شتون کې غونډه وکړه، په غونډه کې لاندې موضوع ګانې د غړيو له خوا وڅېړل شوې او په اړه يې لازم تصميمونه ونيول شول:

**لومړۍ موضوع: د اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون له چارواکيو څخه د ملي شورا د استجواب په اړه د کميسيون د حقوقي نظريې د مسودې د متن بشپړول؛**د کميسيون د حقوقي نظريې مسوده داصلاحاتو په راوستلو سره تصويب شوه.

**دويمه موضوع: د ملي راډيو ټلويزيون له لارې د کميسيون د کړنو په اړه د ريپورټونو د خپرولو له پاره د وخت ټاکل؛**

په دې اړه پريکړه وشوه چې دکميسيون رياست دې د اساسي قانون دتصويب ورځې د مراسمو تر لمانځلو وړاندې د ملي ټلويزيون له لارې د کميسيون د کړنو او لاسته راوړنو په اړه هېوادوالو ته معلومات ورکړي. د ريپورټ متن دې د پخواني متن پر اساس د ښاغليو سلاکارانو له خوا بشپړ شي.

**شماره (۲۴)**

## مصوبات جلسه عادی کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی منعقده‌ی ۱۳۹۰/۸/۲۲

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی به تاریخ ۱۳۹۰/۸/۲۲ تحت ریاست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئیس این کمیسیون باحضور همه‌ی اعضاء تشکیل جلسه داد. در این جلسه موضوعات زیر مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در مورد آنها تصامیم مقتضی ذیل اتخاذ شد:

**موضوع اول: نهایی ساختن متن پیش نویس نظریه حقوقی کمیسیون در مورد استجواب شورای ملی از مسئولان کمیسیون مستقل اصلاحات اداری؛**

متن پیش نویس نظریه حقوقی کمیسیون با آوردن اصلاحات به تصویب رسید.

**موضوع دوم: تعیین زمان جهت ارائه گزارش کارکرد کمیسیون به هموطنان از طریق رادیو تلویزیون ملی؛**

در این مورد فیصله به عمل آمد که ریاست کمیسیون پیش از برگزاری مراسم تجلیل از روز تصویب قانون اساسی از کارکردهای کمیسیون از طریق تلویزیون ملی گزارش دهد. متن گزارش به اساس متن قبلی توسط مشاورین محترم تکمیل شود.

**دریمــه موضــوع: د اساســي قــانون د تصویب ورځې د مراسمو د بودجې تأمین؛**
د دارالانشاء لوي ریاست څرګنـده کـړه چې د دې مراسـمو د بـودجې،د کـالیزې او څېړنیزو مقالو د چـاپ او خپرولـو پـه برخـه کې کومه ستونزه نه ده موجوده.

**څلورمه موضوع:د اساسي قانون د (۶۵) مادې مطابق د دودیزې (مشورتي)جرګې پر قانوني والي بحث؛** په دې اړه د کمیسیون د حقـوقي مشـورې مسـوده د اصـلاحاتو پـه راوړلو سره د غړیو له خوا تصویب شوه.

**پنځمه موضوع: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د تشکیل او صلاحیت قانون د تعدیل پر طرحې بحث؛**
د غونـډې د وخـت د پـوره کېـدو پـه دلیـل د دغـې طرحـې اروزنـه فـوق العـاده غونډو تـه چـې د دوشـنبې او سـه شـنبې پـه ورځو (۲۳او۱۳۹۰/۸/۲۴ نیټو) بـه جـوړېږي، وځنډول شوه.

**موضوع سوم: تأمین بودجه برگزاری مراسم روز تصویب قانون اساسی؛**
ریاست محترم دارالانشـاء اظهـار داشـت که در بخش تأمین بودجه این مراسم، چاپ و انتشار سالنامه و مجموعه مقالات تحقیقی هیچگونه مشکلی وجود ندارد.

**موضوع چهارم: بحـث روی قـانونی بـودن جرگـه عنعنـوی (مشـورتی) در مطابقت با ماده (۶۵) قانون اساسی؛**
در این مورد پیش نویس مشوره حقـوقی کمیسیون با آوردن اصـلاحاتی بـه تصـویب اعضا رسید.

**موضـوع پـنجم: بحـث روی طـرح تعـدیل قـانون تشـکیل و صـلاحیت کمیسیون مستقل نظـارت بـر تطبیـق قانون اساسی؛**
به دلیل تمام شدن وقت مجلس، بررسی این طرح به جلسه های فـوق العـاده کـه در روز هـای دوشـنبه و سـه شـنبه مـؤرخ ۲۳و۱۳۹۰/۸/۲۴ بر گزار مـی شـود، واگـذار شد.

(۲۵)**مه شمېره:**

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د۲۴او۱۳۹۰/۸/۲۳ نېټې فوق العاده غونډو مصوبې

د اساسي قانون پرتطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په ۲۳ او۱۳۹۰/۸/۲۴ نېټه د کميسيون د رئيس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او د غړيو په شتون کې غونډه وکړه، په دې غونډه کې لاندې موضوع ګانې د غړيود بحث او پلټنې لاندې ونيول شو او په اړه يې لازم تصميمونه ونيول شول:

**لومړۍ موضوع: د بګرام محبس د بنديانو وضعيت د څېړنې په موخه د اړوندو بنسټونو د پلاوي د رابلنې پرموضوع بحث؛** په دې اړه تصويب شوه چې د اړوندو بنسټونو استازي دې د شنبې ورځې (۱۳۹۰/۹/۱۹ نېټه) غونډې ته چې په کميسيون کې جوړيږي، راوبلل شي.

**دويمه موضوع: په هيواد کې د قانون د حاکميت له پاره د قانون د حراست بنسټونو تر مينځ د همغږۍ راوستلو پر څرنګوالي بحث؛** د دغې موضوع په اړه وپتيل شوه چې د سيمه ييزو فعالو ادارو د بيلا بيلو برخو په ګډون دې د هېواد د مرکز او زونونو په کچه د قانون د تطبيق په اړه ګډ سيمينارونه جوړ شي.

د دغې طرحې د تطبيق په اړه پرېکړه شوه چې د کميسيون د غړې آغلې پوهنوال

## شماره (۲۵)

## مصوبات جلسات فوق العاده کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی منعقده‌ی ۲۳ و۱۳۹۰/۸/۲۴

کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی به روزهای۲۳و۱۳۹۰/۸/۲۴ تحت رياست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئيس اين کميسيون با حضور همه اعضاء تشکيل جلسه داد. در اين جلسه موضوعات زير مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در مورد آنها تصاميم مقتضی ذيل اتخاذ شد:

**موضوع اول: بحث روی دعوت هيئت نهادهای مربوط، جهت بررسی وضعيت زندانيان بگرام؛**

در اين مورد به تصويب رسيد که از نمايندگان نهادهای مربوط برای جلسه روز شنبه مؤرخ ۱۳۹۰/۹/۱۹ که در مقر کميسيون برگزار می شود دعوت به عمل آيد.

**موضوع دوم: بحث روی چگونگی ايجاد هماهنگی ميان نهادهای حراست از قانون جهت تحکيم حاکميت قانون در کشور؛**

در ارتباط به اين موضوع فيصله به عمل آمد که سيمينارهای مشترک متشکل از بخش های مختلف ادارات محلی فعال در عرصه تطبيق قانون در مرکز، يا در زون های کشور تشکيل شود.

به منظور تطبيق اين طرح فيصله شد که

محبوبه حقوقمل په مشرۍ، دکمیسیون د مرستیال ښاغلي پوهندوي عبدالقادر عدالتخواه په مرستیالی او د وزارتونو او دولتي سازمانونو پر کړنو د څارنې، له اساسي قانون څخه د عامه پوهاوي او اړیکو او د قوانینو د مطالعې او پرمختیا ډیپارټمنټونو د رئیسانو په غړیتوب دې یوه کمیټه جوړه شي.

**دریمه موضوع: د اساسي قانون د سیمینارونو د جوړیدو او د اساسي قانون د تصویب د ورځې د لمانځلو په اړه بحث؛**

په دې اړه تصویب شوه چې د کمیسیون د منشي په مشرۍ او د دارالانشاء لوی رئیس، د اساسي قانون د تشریح او دح قوقي مشورو او د قوانینو د پرمختیا ډیپارټمنټ رئیسانو، سلاکارانو او د اطلاعاتو او عامه اړیکو د آمر په غړیتوب دې یوه کمیټه جوړه شي او د سیمینار او د اساسي قانون په اړه دې د څېړنیزو مقالو د چاپ اړوند مسائل پر مخ بوځي.

**څلورمه موضوع: د اساسي قانون پر بنسټ د اړتیا وړ قوانینو د تحقیق له پاره دیو ټاکلي میکانیزم په اړه د قوانینو د څېړنې او پرمختیا ډیپارټمنت د وړاندیز ارزونه؛** په دې اړه تصویب شوه چې یاد ډیپارټمنټ دې لومړي معلومه کړي چې د اساسي قانون په بنسټ دکومو قوانینو وضع او تصویب لازمي دي چې تر اوسه پورې نه دي تصویب شوي. همدارنګه دې څېړنه وکړي چې په کومه اندازه نور قوانین د اساسي قانون د

کمیته ای تحت ریاست محترمه پوهنوال محبوبه حقوقمل عضو کمیسیون و به معاونیت محترم پوهندوی عبدالقادر عدالتخواه معاون کمیسیون و عضویت رؤسای دیپارتمنت های نظارت از وزارت ها و سازمان های دولتی، ارتباط و آگاهی از قانون اساسی و تحقیق و انکشاف قوانین

**موضوع سوم: بحث روی تدویر سیمینار قانون اساسی و تجلیل از روز تصویب قانون اساسی؛**

در این مورد به تصویب رسید که کمیتهٔ به ریاست منشی کمیسیون با عضویت ریاست محترم دارالانشاء، رؤسای دیپارتمنت های تشریح قانون اساسی، مشوره های حقوقی و انکشاف قوانین، مشاورین محترم و آمر اطلاعات و ارتباط عامه تشکیل شود و مسائل مربوط به سیمینار و چاپ مجموعه مقالات تحقیقی درباره قانون اساسی را به پیش ببرد.

**موضوع چهارم: بررسی پیشنهاد دیپارتمنت تحقیق و انکشاف قوانین غرض ایجاد میکانیزم مشخص به منظور تحقیق در مورد قوانین مورد نیاز بر مبنای قانون اساسی؛**

در این مورد به تصویب رسید که دیپارتمنت یاد شده نخست معلوم کند چه قوانینی بر مبنای قانون اساسی وضع و تصویب آن لازم است که هنوز به تصویب نرسیده است. همچنین تحقیق کند که چه مقدار قوانین دیگر که اصل تطبیق قانون

تطبیق اصل د هغو وضع کول ایجابوي که څه هم چې په اساسي قانون کې نه وي تصریح شوي. دویم دې دا په ګوته کړي چې د کومو قوانینو وضع او تصویب د اساسي قانون د تطبیق او رعایت له پاره لومړیتوب لري.

**پنځمه موضوع: د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون ته د اساسي قانون شورا، د اساسي قانون د تسوید او تدقیق کمیسیونونو او د اساسي قانون د لوې جرګې د اسنادو او سوابقو د انتقال په اړه بحث او د تصمیم نیول؛**

د اساسي قانون شورا د اسنادو د انتقال په اړه د کمیسیون سلاکار ښاغلي الماس دنده واخیسته چې د خپلو اړیکو پر بنسټ یې د یادو اسنادو په اړه له ځینو حقیقي اشخاصو څخه یو لړ لازم معلومات تر لاسه کړي، چې د کمیسیون په واک کې به یې ورکړي.

د تدقیق او تسوید د کمیسیون او د اساسي قانون د او لویې جرګې د اسنادو د لیږد په اړه یادونه شوه چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له دغو اسنادو څخه د کاپي په اخستلو هوکړه کړې او د کمیسیون د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت ته دنده وسپارل شوه چې په دې برخه کې دې لازم اقدام وکړي.

اساسی ایجاب وضع آن ها را می کند هرچند که در قانون اساسی به آن تصریح نشده باشد. سوم این که مشخص کند وضع و تصویب چه قوانینی برای تطبیق و رعایت قانون اساسی از اولویت برخوردار است.

**موضوع پنجم: بحث و اتخاذ تصمیم در مورد انتقال سوابق و اسناد شورای قانون اساسی و کمیسیون تسوید، تدقیق و لویه جرگه قانون اساسی به کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی؛**

در مورد انتقال اسناد شورای قانون اساسی محترم الماس از مشاوران محترم کمیسیون وظیفه گرفت که بر اساس اطلاعات خود راجع به موجودیت این اسناد نزد برخی از اشخاص حقیقی معلومات لازم را کسب کرده به کمیسیون گزارش دهد.

در مورد انتقال اسناد کمیسیون تسوید، تدقیق و لویه جرگه قانون اساسی یاد آوری شد که وزارت محترم اطلاعات و فرهنگ در قسمت گرفتن کاپی از این اسناد موافقت کرده است و آمریت اطلاعات و ارتباط عامه کمیسیون مؤظف است که در این بخش اقدام لازم را انجام دهد.

**(۲۶)مه شمېره:**

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د ۱۳۹۰/۱۰/۱۸ نېټې عادي غونډې مصوبې

د اساسي قانون پرتطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په ۱۳۹۰/۱۰/۱۸ نېټه د کميسيون رئيس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او د غړيو په شتون کې غونډه وکړه. په دغه غونډه کې لاندې موضوعات د غړيو له خوا وڅېړل شوې او په اړه يې لازم تصميمونه ونيول شول:

**لومړي موضوع: د ملکي خدمتونو د کارکوونکيو د مقرري او انفکاک، په ځانګړي توګه په وزارتونو کې د اساسي قانون د (۵۰) مادې د نه رعايتولو په اړه بحث؛** په دې اړه تصويب شوه چې لومړي دې د وزارتونو او مؤسسو د څارنې ډيپارټمنټ د يادو مراجعو د څارنې له پاره د اساسي قانون د (۵۰) مادې او د ملکي خدمتونو د کارکوونکيو قانون د حکمونو په پام کې نيولو او د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون په سلامشورې يو ځانګړي کړندود جوړ کړي او د پلټنې او تصويب له پاره دې يې د کميسيون بلې غونډې ته وړاندې کړي. بل دا چې د ياد ډيپارټمنټ ښاغلي مسؤول دې د حقوقي مشورو او د اساسي قانون دتشريح ډيپارټمنټ د مسؤول په مرسته د اداري اصلاحاتو د پروسې په اړه چې د ملکي

### شماره ( ۲۶ )

## مصوبات جلسه عادی کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی منعقدهٔ ۱۳۹۰/۱۰/۱۸

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی به تاریخ ۱۳۹۰/۱۰/۱۸ تحت ریاست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئیس این کمیسیون با حضور همهٔ اعضاء تشکیل جلسه داد. در این جلسه موضوعات زیر مورد بحث و بررسی قرارگرفت و در مورد آنها تصامیم مقتضی ذیل اتخاذ شد:

**موضوع اول: بحث در مورد عدم رعایت ماده (۵۰) قانون اساسی در باره تقرر و انفکاک کارکنان خدمات ملکی به خصوص در وزارت خانه ها؛**

در این مورد به تصویب رسید که اولاً دیپارتمنت نظارت از وزارت ها و مؤسسات دولتی، طرزالعمل خاصی را به منظور نظارت از مراجع یادشده، در خصوص رعایت و تطبیق احکام ماده (۵۰) قانون اساسی با در نظرداشت قانون کارکنان خدمات ملکی و با مشوره از متخصصان کمیسیون مستقل اصلاحات اداری و خدمات ملکی، ترتیب دهد و این طرزالعمل را جهت بررسی و تصویب به مجلس بعدی کمیسیون ارائه دهد، ثانیاً مسئول محترم دیپارتمنت یاد شده با همکاری مسئول دیپارتمنت تشریح قانون اساسی و مشوره های حقوقی، ملاحظات کمیسیون را در مورد پروسه

خـــدمتونو او اداري اصـــلاحاتو خپلـــواک کميسيون له خوا تر سره کېږي د کميسـيون نيوکې ترتيب او د پلټنې او تصويب لـه پـاره دې دکميسيون بلې غونډې ته وړاندې کړي.

**دويمه موضـوع: د کميسـيون د مسـلکي کادر د روزنې پـه اړه د حقـوقي مشـورو او اساسي قانون د تشريح ډيپارټمنټ لـه خـوا طرحه وړاندې شوه؛** د دغې موضوع په اړه د کميسـيون د مسـلکي کـادر د روزنـې اصـل تصـويب شـو او وپتيـل شـوه چـې د دغـې طرحـې روزنيـز پروګـرام دې د نومـوړي ډيپارټمنت او د اساسـي قـانون د پوهـاوي او اړيکو ډيپارټمنټ له خـوا ترتيـب او د پلټنـې او تصـويب لـه پـاره دې د کميسـيون بلـې غونډې ته وړاندې شي.

**دريمه موضوع: د کميسيون د پاليسی او کاري لومړيتوبونو د ټاکلو پـه اړه بحـث او پلټنه؛**

پـه دې اړه تصـويب شـوه چـې شـپږواړه ډيپارټمنټونـه دې خپـل کـاري لومړيتوبونـه د خپلـو کـاري پلانونـو پـر بنسـټ ترتيـب او دکميسيون بلې غونډې ته دې يې د پلټنـې او تصويب له پاره وړاندې کړي.

اصلاحات اداری که توسط کميسيون محترم مسـتقل اصـلاحات اداری و خـدمات ملکـی اجراء می شود، ترتيب داده به مجلس بعدی کميســيون جهـت بررســی و تصـويب ارائـه دهد.

**موضوع دوم: بررسی طرح آمــوزش داخل خدمت کادر مسلکی کميســيون ارائه شده از سوی ديپارتمنت تشــريح قانون اساسی و مشوره های حقوقی؛**

در ارتباط به اين موضوع، اصـل آمـوزش داخل خدمت کادر مسـلکی کميسـيون بـه تصويب رسيد که برنامه آموزشی اين طـرح توسـط ديپارتمنـت متـذکره و ديپارتمنـت ارتباط و آگاهی از قانون اساسی ترتيب داده و در مجلس بعدی کميسيون، جهت بررسی و تصويب ارائه شود.

**موضوع سـوم: بحـث و بررسـی در مورد تعيــين پاليســی و اولويـت هــای کاری کميسيون؛**

در ايـن ارتبـاط بـه تصـويب رسـيد کـه ديپارتمنت های شـش گانـه، اولويـت هـای کاری خود را بر اساس پلان کـاری خـويش ترتيب داده و جهـت بررسـی و تصـويب بـه مجلس بعدی کميسيون ارائه دهند.

(۲۷)مه شمېره:

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د ۱۳۹۰/۱۰/۲۵ نېټې عادي غونډې مصوبې

د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په ۱۳۹۰/۱۰/۲۵ نېټه د کميسيون د رئيس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او د غړيو په شتون کې غونډه وکړه، په دې غونډه کې لاندې موضوع ګانې د غړيو له خوا وڅېړل شوې او په اړه يې لازم تصميمونه ونيول شول:

**لومړی موضوع: د دوديزې لوې جرګې د (۷۶) ماده ييزو مصوبو مطالعه او ارزونه؛** په دې اړه تصويب شوه چې د دغې ۷۶ ماده ييزې مصوبې په اړه دې داسې يوه حقوقي مشوره تصويب شي، چې د اساسي قانون پر بنسټ وي او د اړتيا په صورت کې دې د جمهوري رياست ښاغلي مقام ته وړاندې شي.

**دويمه موضوع: د ډيپارټمنټونو د کاري پلانونو ارزونه؛**

د يکشنبې ورځې (۱۳۹۰/۱۰/۲۳ نېټه) په عادي غونډه کې د قوانينو د څېړنې او د پرمختيا ډيپارټمنټ د ۱۳۹۰ کال د څلورمې ربعې کاري پلان د اصلاحاتو او تعديلاتو په راوستلو سره تصويب شو. او وپتيل شوه چې د نورو ډيپارټمنټونو د ۱۳۹۰ کال د څلورمې ربعې کاري پلانونه دې هم په پرله پسې ډول د اوونۍ په اوږدو کې د څو فوق العاده غونډو په ترڅ کې د ډيپاټمنټونو د رئيسانو په شتون

## شماره ( ۲۷ )

## مصوبات جلسه عادی کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی منعقده‌ی ۱۳۹۰/۱۰/۲۵

کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی به تاريخ ۱۳۹۰/۱۰/۲۵ تحت رياست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئيس اين کميسيون با حضور همه‌ی اعضاء تشکيل جلسه داد. در اين جلسه موضوعات زير مورد بحث و بررسی قرارگرفت و در مورد آنها تصاميم مقتضی ذيل اتخاذ شد:

**موضوع اول: مطالعه و بررسی تصاويب (۷۶) ماده ای لويه جرگه عنعنوی؛**

در اين مورد به تصويب رسيد که در مورد محتويات اين تصاويب يک مشوره حقوقی بدون استناد به اين تصاويب، صرفاً بر مبنای قانون اساسی ترتيب داده شود و در صورت لزوم ديد به مقام محترم رياست جمهوری ارائه شود.

**موضوع دوم: بررسی پلان های کاری ديپارتمنت ها؛**

در مجلس عادی روز يکشنبه مؤرخ ۱۳۹۰/۱۰/۲۳ پلان کاری ربع چهارم سال ۱۳۹۰ديپارتمنت تحقيق و انکشاف قوانين با آوردن اصلاحات و تعديلات به تصويب رسيد و فيصله شد که پلان های کاری ربع چهارم سال ۱۳۹۰ ديپارتمنت های ديگر به صورت متوالی طی چندين جلسه فوق العاده در خلال هفته با حضور رؤسای

کې وارزول شي او تصويب دې شي.

د کميسيون د دغې مصوبې پر اساس په درېيو فوق العاده غونډو کې چې په ترتيب سره په ۱۳۹۰/۱۰/۲۶، ۱۳۹۰/۱۰/۲۷ او ۱۳۹۰/۱۰/۲۸ نېټو جوړې شوې، له اساسي قانون څخه د عامه پوهاوي او اړيکو، د اساسي قانون د تشريح او په وزارتونو او دولتي ادارو کې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې ډيپارټمنټونو او د حقوقي سلاکارانو د ۱۳۹۰ د کال د څلورمې ربعې کاري پلانونه د اصلاحاتو او تعديلاتو په راوستلو سره تصويب شول.

ديپارتمنت ها بررسی و تصويب شود.

به موجب همين مصوبه کميسيون، در سه مجلس فوق العاده که به ترتيب به تاريخ ۱۳۹۰/۱۰/۲۶ ، ۱۳۹۰/۱۰/۲۷ و ۱۳۹۰/۱۰/۲۸ برگزار شد، پلان های کاری ربع چهارم سال ۱۳۹۰ «ديپارتمنت ارتباط و آگاهی از قانون اساسی»، «ديپارتمنت تشريح قانون اساسی و مشوره های حقوقی» و «ديپارتمنت نظارت از وزارت ها و ادارات دولتی» با آوردن اصلاحات و تعديلات تصويب شد.

(۲۸) مه شمېره:

## د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې د خپلواک کمیسیون د۹ او ۱۳۹۰/۱۱/۱۰ نیټو د عادي او فوق العاده غونډو مصوبې

د اساسي قانون پرتطبیق دڅارنې خپلواک کمیسیون په ۹ او ۱۳۹۰/۱۱/۱۰ نیټو دکمیسیون د رئیس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او د غړیو په شتون کې غونډه وکړه، په دې غونډه کې لاندې موضوعات د غړیو له خوا وڅېړل شول. او په اړه یې لازم تصمیمونه ونیول شول:

**لومړۍ موضوع: د ولسوالیو او کلیوالي شوراګانو د تشکیل او د ښاروالانو او د ښاروالیو د شوراګانو د غړیو د ټاکلو په هکله د اساسي قانون د ۱۴۰ او ۱۴۱ مادو په اړه بحث او څېړنه؛** په دې اړه له غور او پلټنې وروسته لاندې موارد تصویب شول:

لومړي: وپتیل شوه چې د ملي پیوستون پروګرام د ټاکنو له لارې چې کومې د ولسوالیو او کلیو شوراګانې او نور بنسټونه جوړ شوي دي، د هغو د رسمي کولو په اړه د کمیټې توظیفول چې د جمهوري ریاست ښاغلي مقام د۱۳۹۰/۳/۴نیټې د ۲۰۸۵ شمېره حکم پر اساس یې وړاندېز شوي، د اساسي قانون په تېره د دغه قانون د ۱۴۰ او ۱۴۱ مادو له حکمونو سره په ټکر کې دي، موضوع باید د یوې حقوقي نظریې په چوکاټ کې دکمیسیون له تصویب وروسته اړوندو ځانګو ته ابلاغ شي. همدارنګه پرېکړه وشوه چې باید له اړوندې ځانګې څخه غوښتنه

## شماره (۲۸)

## مصوبات جلسات عادی و فوق العاده کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی منعقده‌ی ۹ و ۱۳۹۰/۱۱/۱۰

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی به تاریخ ۹ و۱۳۹۰/۱۱/۱۰ تحت ریاست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئیس این کمیسیون با حضور همه‌ی اعضاء تشکیل جلسه داد. در این جلسات موضوعات ذیل مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در مورد آنها تصامیم مقتضی به شرح ذیل گرفته شد:

**موضوع اول: بحث و بررسی در مورد احکام مواد (۱۴۰) و (۱۴۱) قانون اساسی درباره تشکیل شوراهای ولسوالی ها و قریه ها و انتخاب شاروال ها و اعضای مجالس شاروالی ها؛**

در این مورد بعد از بحث و بررسی موارد ذیل به تصویب رسید:

**اول**: فیصله شد که در طرح پیشنهادی کمیته مؤظفی که به اثر حکم شماره (۲۰۸۵) مؤرخ ۱۳۹۰/۴/۳ مقام محترم ریاست جمهوری راجع به رسمی شدن نهادهای انتخابی در سطح ولسوالی ها و قریه ها (که از طریق برنامه همبستگی ملی و نهادهای دیگر تشکیل شده اند) مخالف قانون اساسی خصوصاً مواد۱۴۰و۱۴۱ این قانون اند، شناسایی و موضوع به صورت یک نظریه حقوقی بعد از تصویب کمیسیون به مراجع مربوط ابلاغ شود. ضمناً فیصله شد تا از مرجع مربوط مطالبه شود

وشي چې ياده طرحه په رسمي توګه کميسيون ته راواستوي.

دويم: د اساسي قانون د تشريح او حقوقي مشورو او په دولتي ادارو او وزارتونو کې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې ډيپارټمنټونو له خوا دې د اساسي قانون د ۱۴۰ او ۱۴۱ مادو د تطبيق، په دې برخه کې د اړوندو بنسټونو او ادارو د دندو او مسؤوليتونو، ستونزو او خنډونو او د هغو د حل لارو په اړه يوه ټولنيزه او هر اړخيزه طرحه چمتو او د کميسيون راتلوونکې غونډې ته دې وړاندې شي.

**دويمه موضوع: د کميسيون د مسلکي کادر د روزنې طرحه «د اساسي قانون د لومړۍ کچې درسپاڼې متن» وڅېړل شوه؛**

د کميسيون د مسلکي کادر د روزنې طرحې د مضمونونو برخه چې د کميسيون د۱۱/۲ /۱۳۹۰ نېټې غونډه کې تصويب شوې وه، يو ځل بيا د۱۰ /۱۳۹۰/۱۱ نېټې د دوشنبې په غونډه کې ور باندې بحث وشو او پاتې برخه يې هم له يو لړ اصلاحاتو او تعديلاتو وروسته تصويب شوه. خو د اساسي قانون د درسپاڼې طرح دا چې د کميسيون د عادي بودجې له لارې يې امکان نه وو، پرېکړه وشوه چې په راتلوونکې غونډه کې د دارالانشاء د لوی رئيس په شتون کې مطرحه شي.

**درېيمه موضوع: له دولتي سازمانونو او مؤسسو څخه د څارنې ډيپارټمنټ د کاري پلان ارزونه؛**

د روان کال د څلورمې ربعې له پاره د ياد ډيپارټمنټ کاري پلان په يوه فوق العاده غونډه

که طرح مذکور را به صورت رسمی به کميسيون ارسال کند.

**دوم**: طرح جامع و همه جانبه در مورد مقدمات و لوازم قانونی، مشکلات و موانع فنی و راه حل آن ها و وظايف نهادها و ارگانهای ذيربط در ارتباط با اجرايی ساختن احکام مواد (۱۴۰) و (۱۴۱) قانون اساسی از سوی ديپارتمنت های «تشريح قانون اساسی و مشوره های حقوقی» و «نظارت بر اجراآت وزارت ها و ادارات دولتی» ترتيب و به مجلس بعدی کميسيون ارائه شود.

**موضوع دوم: بررسی طرح آموزشی داخل خدمت کادر های مسلکی کميسيون و بررسی طرح ترتيب «متن آموزشی درسنامه ی قانون اساسی سطح (۱)»؛**

طرح آموزشی داخل خدمت که در مجلس روز يکشنبه مؤرخ ۱۳۹۰/۱۱/۲ بخش مضامين آن به تصويب رسيده بود، مجدداً در مجلس روز دوشنبه مؤرخ ۱۳۹۰/۱۱/۱۰ به بحث گرفته شد و بخش های باقی مانده با اصلاحات و تعديلات به تصويب رسيد، اما طرح درسنامه ی قانون اساسی به دليل اين که اجرای آن از طريق بودجه عادی کميسيون ميسر نيست، مقرر شد که در مجلس بعدی کميسيون با حضور رئيس عمومی دارالانشاء مطرح شود.

**موضوع سوم: بررسی پلان کاری ديپارتمنت نظارت از مؤسسات و سازمان های دولتی؛**

پلان کاری ديپارتمنت متذکره برای ربع چهارم سال روان، در مجلس فوق العاده کميسيون مطرح و بخش مربوط به فعاليت های

کې مطرحه شو او له یو لړ اصلاحاتو وروسته یې اړوندې برخې له اجرایوي فعالیتونو سره یو ځای تصویب شوې.خو د ملي ستراتیژۍ او د پلان موخو په برخه کې یاد ډیپارټمنټ ته دنده وسپارل شوه، چې لازم اصلاحات په کې راولي.

**شلورمه موضوع: د باګرام زندان په اړه د کمیسیون د وروستني راپورپه هکله د امریکا د متحده ایالتونو ځواکونو د ځوابیه یادداشت پلټنه؛**

په هکله پرېکړه وشوه چې دکمیسیون په راتلونکې غونډه کې دې د هغه په اړه بحث وشي او تر هغه پورې دې ښاغلي غړي په دې اړه پلټنه وکړي او خپل نظریات دې راتلوونکې غونډې ته وړاندې کړي.

**پنځمه موضوع: د ښاروالانو او د ښاروالیو د غونډو د غړیو د ټاکنو د نه تر سره کېدو د لاملونو په اړه د کمیسیون د مکتوب په ځواب د ټاکنو دخپلواک کمیسیون د ۱۳۹۰/۱۱/۱۴ نیټې د (۲۷۷) شمېرې مکتوب ارزونه؛** په دې اړه وپتیل شوه چې د اساسي قانون د(۱۴۰) او(۱۴۱) مادو د حکمونو د تطبیق له پاره دې د اساسي قانون د تشریح او د دولتي ادارو او وزارتونو د څارنې ډیپارټمنټونو او حقوقي سلاکارانو له خوا یوه ټولیزه طرحه ترتیب شي، د ټاکنو خپلواک کمیسیون مکتوب دې هم تجزیه او تحلیل شي او د پایلو راپور دې د کمیسیون راتلوونکې غونډې ته وړاندې شي.

اجرایی آن با آوردن اصلاحاتی به تصویب رسید. اما بخش مربوط به استراتیژی ملی و اهداف پلان، فیصله شد که توسط دیپارتمنت متذکره اصلاح شود.

**موضوع چهارم: بررسی یاداشت جوابیه نیروهای ایالات متحده امریکا در مورد گزارش اخیر کمیسیون در رابطه به زندان بگرام؛**

فیصله شد که در مجلس بعدی کمیسیون راجع به آن بحث صورت گیرد، اما اعضای محترم مؤظف شدند که پیش از تشکیل مجلس بعدی جوابیه را بررسی و نظریات خویش را در مورد آن به جلسه بعدی ارائه دهند.

**موضوع پنجم: بررسی مکتوب شماره (۲۷۷) مؤرخ ۱۳۹۰/۱۱/۴ کمیسیون مستقل انتخابات به جواب مکتوب کمیسیون در مورد علل و عدم برگزاری انتخابات شاروالی ها و اعضای مجالس شاروالی ها؛**

در این خصوص مقرر شد که ضمن طرح جامعی که برای تطبیق احکام مواد (۱۴۰) و (۱۴۱) قانون اساسی از سوی دیپارتمنت های "تشریح قانون اساسی و مشوره های حقوقی" و "نظارت بر اجراآت وزارت ها و ادارات دولتی" ترتیب می شود، مکتوب کمیسیون مستقل انتخابات نیز تجزیه و تحلیل و به مجلس بعدی کمیسیون نتیجه آن گزارش شود.

(۲۹)**مه شمېره**:

**د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د ۱۳۹۰/۱۱/۱۹ نېټې د عادي غونډې مصوبې**

د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون په ۱۳۹۰/۱۱/۱۹ نېټه د کميسيون رئيس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او غړيو په شتون کې غونډه وکړه. په دغه غونډه کې لاندې موضوعات د غړيو له خوا وڅېړل شوې او په اړه يې لازم تصميمونه ونيول شول:

**لومړی موضوع: په کليو او ولسواليو کې د ټاکنيزو بنسټونو د رسمي کولو له پاره دافغانستان د اسلامي جمهوري دولت د رياست مقام له خوا د مؤظفې کميټې د وړانديز په اړه د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د نظريې پلټنه؛**

د دغې موضوع په اړه د کميسيون د نظريې مسودې متن په تفصيل سره وڅېړل شو او په يو لړ اصلاحاتو سره تصويب شو.

**دويمه موضوع: د بګـرام محبس په اړه دکميسيون د وروستي ريپورټ په هکله د امريکا متحده ايالتونو ځواکونو د ځوابي يادداشت په اړه د کميسيون د ځواب ارزونه؛**

په دې اړه د يادداشت تر سرليک لاندې متن تصويب شو:

۱. د باګرام زندان په اړه د کميسيون د لومړني او بشپړ ريپورټ پر وړانديز باندې په ټينګار سره، د حکومت د قضائيه قوې او ائتلافي ځواکونو له خوا پر هغه باندې

**شماره (۲۹)**

**مصوبات جلسه فوق العاده کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی منعقدهٔ ۱۳۹۰/۱۱/۱۹**

کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی به تاريخ ۱۳۹۰/۱۱/۱۹ تحت رياست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئيس اين کميسيون با حضور پنج نفر از اعضاء تشکيل جلسه داد. در اين جلسه موضوعات ذيل مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در مورد آنها تصاميم مقتضی اتخاذ شد:

**موضوع اول: بررسی نظريه کميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی در مورد پيشنهاد کميته مؤظف از طرف مقام رياست دولت جمهوری اسلامی افغانستان برای رسمی شدن نهادهای انتخاباتی در قريه ها و ولسوالی ها؛**

در ارتباط به اين موضوع، متن پيش نويس نظريه کميسيون در مورد اين پيشنهاد به تفصيل مورد بحث و بررسی قرار گرفت و با اصلاحات به تصويب رسيد.

**موضوع دوم: بررسی جوابيه کميسيون در مورد جوابيه نيروهای ايالات متحده امريکا در مورد گزارش اخير کميسيون در رابطه به زندان بگرام؛**

در اين رابطه يک متن تحت عنوان که حاوی موارد ذيل می باشد به تصويب رسيد:

۱. تأکيد بر پيشنهاد مندرج در گزارش اول و تکميلی کميسيون از زندان بگرام و بررسی عميق و همه جانبه آن توسط حکومت،

ژور غور او څېړنه؛

۲. د امریکا متحده ایالتونو د ځواکونو د دغې حقوقي ادعاء د اسنادو پلټنې په اړه چې د افغانستان اتباع د بین المللی اسنادو په موجب چې د جنګ او د وسله والو منازعاتو په اړه دي، په توقیف کې ساتي؛

۳. د دغې مسألی حقوقي پلټنه چې نړیوال بشر دوستانه حقونو میثاقونه د امریکا متحده ایالتونو ځواکونه په دی نه ملزموی چې د باګرام توقیف ځای د بې پلوه او خپلواکو نړیوالو ارګانو له خوا کنترول او وڅارل شي او د بندیانو شکایتونه دې د دغو بنسټونو له خوا وپلټل شي؛

۴. د امریکا متحده ایالتونو ځواکونو د دغې ادعاء پلټنه چې د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال میثاق حکمونه او ژمنې یوازې ملي دولتونه ملزموي چې د خپل حاکمیت په قلمرو کې په هغو عمل وکړي او نړیوال ځواکونه د جنګ په حالت کې د دغو حکمونو پر رعایت ملزم نه دي.

**درېیمه موضوع: د اساسي قانون د (۵۰) مادې د حکمونو په رڼا کې د ملکي خدمتونو د کارکوونکیو د قانوني خوندیتوب په اړه بحث او پلټنه؛**

په دې اړه له بحث او پلټنې وروسته په لاندې مواردو باندې هوکړه وشوه:

۱. د قانون له نظره، د ملکي خدمتونو کارکوونکې کاري خوندیتوب لري او د دې له پاره چې موضوع په پوره ډول روښانه

قوه قضائیه و نیروهای ائتلاف بین المللی؛

۲. بررسی استناد حقوقی ادعای نیروهای ایالات متحده امریکا مبنی بر این که اتباع افغانستان را به موجب اسناد بین المللی مربوط به جنگ و منازعات مسلحانه تحت توقیف قرار می دهند؛

۳. بررسی حقوقی این مسئله که آیا میثاق های بین المللی حقوق بشر دوستانه نیروهای ایالات متحده امریکا را ملزم نمی کنند که بازداشتگاه بگرام توسط ارگانهای بین المللی بی طرف و مستقل مورد نظارت و کنترل واقع شده و شکایات زندانیان توسط این نهادها بررسی شود؛

۴. بررسی این ادعای نیروهای ایالات متحده امریکا که احکام و تعهدات میثاق بین المللی حقوق مدنی و سیاسی فقط دولت های ملی را ملزم می کند که در قلمرو حاکمیت خود به آن عمل کنند و اما نیروهای بین المللی در حالات جنگ ملزم به رعایت احکام آن نیستند.

**موضوع سوم: بحث و بررسی در مورد مصئونیت قانونی مامورین کارکنان خدمات ملکی به موجب احکام ماده (۵۰) قانون اساسی؛**

در این مورد بعد از بحث و بررسی بر موارد ذیل توافق به عمل آمد:

۱. از نگاه قانون، کارکنان خدمات ملکی مصئونیت شغلی دارند و البته برای این که موضوع کاملاً روشن شود، لازم دانسته شد

شي، لازمه وګڼل شوه چې د قوانينو د پرمختيا او مطالعې ديپارټمنټ له خوا دې موضوع مطالعه شي.

۲. په وزارتونو او دولتي ادارو کې د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې ډيپارټمنت ته دنده وسپارل شوه چې د وزارتونو او دولتي ادارو پر کړنو د څارنې په اړه دې د اساسي قانون د (۵۰) مادې د حکم پر اساس د ملکي خدمتونو د کاري خونديتوب په اړه خپله ټوليزه طرحه ترتيب او د کميسيون راتلوونکې غونډې ته دې يې وړاندې کړي.

تا توسط ديپارتمنت تحقيق و انکشاف قوانين موضوع مطالعه شود؛

۲. ديپارتمنت امور نظارت بر اجراآت وزارت ها و ادارات دولتی مؤظف شد که طرح جامع خود را در مورد نظارت از اجراآت وزارت ها و ادارات دولتی در مورد احکام ماده (۵۰) قانون اساسی و مصئونيت شغلی کارکنان خدمات ملکی ترتيب و به مجلس بعدی کميسيون ارائه دهد؛

**(۳۰)مه شمېره:**

## د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون د ۱۳۹۰/۱۱/۲۳ نیټې عادي غونډې مصوبې

د اساسي قانون پرتطبیق دڅارنې خپلواک کمیسیون په ۱۳۹۰/۱۱/۲۳ نیټه د دغه کمیسیون د رئیس ښاغلي پوهاند ګلرحمن قاضي په مشرۍ او غړیو په شتون کې غونډه وکړه، په غونډه کې لاندې موضوعات د غړیو له خوا وڅېړل شول او په اړه یې لازم تصمیمونه ونیول شول:

**لومړۍ موضوع: د اساسي قانون د (۵۰) مادې د حکمونو په اړه پر دولتي اجراآتو د څارنې پر هغې طرحې بحث چې د دولتي ادارو او وزارتونو په اجراأتو د څارنې ډیپارتمنټ له خوا وړاندې شوې وه؛** دغه طرحه د هغه له کړندود سره د ډیپارټمنټ د مسؤول له توضیحاتو وروسته مطرح شوه، په اړه یې بحث وشوه اوپریکړه وشوه چې ښاغلي غړي دې د کمیسون د راتلوونکې غونډې تر جوړیدو پورې د هغه له اجرایوي کړندود سره یو ځای مطالعه کړي او خپل وړاندیزونه دې په راتلوونکې غونډې کې چې دغه طرحه به بیا په کې څېړل کیږي، مطرحه کړي.

**دویمه موضوع: د کمیسیون د ریپورټ په ځواب کې د امریکا د متحده ایالتونو د ځواکونو د ځوابیه یادداشت په اړه بحث او پلټنه؛**

په دې اړه وپتیل شوه چې د کمیسیون د پخوانی غونډې د مصوبې د محورونو مطابق

**شماره (۳۰)**

## مصوبات جلسه عادی کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی منعقده‌ی ۱۳۹۰/۱۱/۲۳

کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی به تاریخ ۱۳۹۰/۱۱/۲۳ تحت ریاست محترم پوهاند گلرحمن قاضی رئیس این کمیسیون با حضور پنج نفر از اعضاء تشکیل جلسه داد. در این جلسه موضوعات ذیل مورد بحث و بررسی قرار گرفت و در مورد آنها تصامیم مقتضی گرفته شد:

**موضوع اول: بحث و بررسی طرح نظارت از اجراآت دولتی در مورد احکام ماده (۵۰) قانون اساسی ارائه شده از سوی دیپارتمنت نظارت بر اجراآت وزارت ها و ادارات دولتی؛**

این طرح همراه با طرزالعمل آن مطرح و بعد از توضیحات مسئول دیپارتمنت در مورد آن بحث و تبادل نظر صورت گرفت و فیصله به عمل آمد که اعضای محترم تا تشکیل مجلس بعدی کمیسیون طرح یادشده را همراه با طرزالعمل اجرایی آن مطالعه کرده و پیشنهادات خود را در مجلس بعدی که این طرح مجدداً به بحث گذاشته می شود، مطرح کنند.

**موضوع دوم: بحث و بررسی در مورد جوابیه نیروهای ایالات متحده امریکا در پاسخ گزارش کمیسیون؛**

در این مورد فیصله شد که مطابق محورهای مصوب مجلس قبلی کمیسیون

دې ور ته ځوابیه ترتیب شي. دغه یادداشت د کمیسیون دې د حقوقي سلا کار له خوا ترتیب شي، د منشې کتنې ته دې یې وړاندې کړي، دغه طرحه به د منشي له اصلاحاتو وروسته د کمیسیون د مرستیال له خوا هم کتل کېږي او د تصویب له پاره به د کمیسیون راتلوونکې غونډې ته وړاندې شي.

**درېیمه موضوع: د۱۳۹۱ کال د پلان په اړه بحث او پلټنه؛**

په دې اړه وپتیل شوه چې د کمیسیون شپږ واړه ډیپارټمنټونه دې خپل د ۱۳۹۱ کال کاري پلانونه په ۱۳۹۰/۱۲/۱۰ نېټه ترتیب او دتصویب له پاره دې یې دکمیسیون غونډې ته وړاندې کړي.

**څلورمه موضوع: د سترې محکمې د غړیو د سرپرستۍ او ولسي جرګې ته د وزیرانو، د سترې محکمې د غړیو او لوی څارنوال په معرفي کولو کې د ځنډ په اړه بحث او خبرې اترې؛**

په دې اړه تصویب شوه چې د اساسي قانون د حکمونو مطابق دې د اساسي قانون د سرغړونې او نه رعایت موارد د کمیسیون قانون د(۸) مادې د دویم جزء د حکم مطابق د یوې نظریې په چوکاټ کې ترتیب شي او له تصویب وروسته دې د جمهوري ریاست محترم مقام او ملي شورا ته وړاندې شي.

در مورد جوابیه یاد شده، ترتیب شود. این را مشاور حقوقی کمیسیون ترتیب کرده و به ملاحظه منشی کمیسیون برساند و بعد از اصلاح و تکمیل آن توسط منشی، معاون کمیسیون نیز آن را ملاحظه فرموده و بعد از اخذ نظر نکات تکمیلی ایشان، برای مجلس بعدی کمیسیون جهت تصویب آماده می شود.

**موضوع سوم: بحث و بررسی در مورد پلان سال ۱۳۹۱؛**

در این مورد مقرر شد که دیپارتمنت های شش گانه کمیسیون پلان های کاری شان برای سال ۱۳۹۱ را تا تاریخ ۱۳۹۰/۱۲/۱۰ ترتیب و جهت تصویب به مجلس کمیسیون ارائه دهند.

**موضوع چهارم: بحث و بررسی در مورد سرپرستی اعضای ستره محکمه، تأخیر در معرفی و تعیین وزرا، اعضای ستره محکمه و لوی څارنوال؛**

در این مورد به تصویب رسید که مطابق احکام قانون اساسی موارد نقض و عدم رعایت قانون اساسی در چارچوب یک نظریه مطابق حکم جزء دوم ماده (۸) قانون کمیسیون ترتیب داده و بعد از تصویب متن در مجلس کمیسیون، به ریاست محترم جمهوری و شورای ملی ارائه شود.

## د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون د غونډو جوړولو کړندود

**لومړۍ ماده:** دغه کړندود د اساسي قانون پر تطبيق د څارنې خپلواک کميسيون قانون د اتمې مادې د اووم جزء پر اساس د کميسيون د غونډو د لا ښه تنظيم له پاره وضع شوی دی.

**دويمه ماده:** د کميسيون غونډه د کلام الله مجيد د آياتونو په تلاوت سره پيلېږي.

**درېيمه ماده:** د کميسيون غونډه د رئيس او د هغه په غياب کې د مرستيال له خوا اداره کېږي.

**څلورمه ماده:** د غونډې اجنداء د کميسيون د منشي له خوا اورول کېږي.

**پنځمه ماده:** د اجنداء موضوع ګانو په زياتولو، تأييد او لېرې کولو کې غړي تصميم نيسي او په اکثريت رأيو سره تصويبېږي.

**شپږمه ماده:** په غونډه کې د خبرو کولو له پاره له رئيس څخه اجازه اخېستل کېږي.

**اوومه ماده:** د خبرو پر مهال نوبت مراعاتېږي.

**اتمه ماده:** د خبرو له پاره لازم وخت الی پنځه دقيقې دی.

**نهمه ماده:** له اجنداء څخه بهر خبرې نه کېږي، د سرغړونې په صورت کې خبرې د رئيس له خوا قطع کېږي.

**لسمه ماده:** په غونډه کې له سپکاوي ډکو

## طرز العمل تدوير مجالس كميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی

**ماده اول:** اين طرزالعمل بر مبنای جزء هفتم ماده ی هشتم قانون كميسيون مستقل نظارت بر تطبيق قانون اساسی به منظور تنظيم بهتر امور مجالس كميسيون وضع شده است.

**ماده دوم:** مجلس كميسيون با تلاوت آياتی از كلام الله مجيد آغاز می شود.

**ماده سوم:** مجالس كميسيون توسط رئيس و در غياب آن توسط معاون كميسيون اداره می شود.

**ماده چهارم:** آجندای مجالس از طرف منشی كميسيون قرائت می شود.

**ماده پنجم:** در تأييد، حذف و يا ايزاد موضوعات آجندا اعضا تصميم می گيرند، طوری كه آجندا به اكثريت آرا تصويب می شود.

**ماده ششم:** برای صحبت كردن در مجالس، از رئيس مجلس وقت گرفته می شود.

**ماده هفتم:** نوبت در هنگام صحبت كردن رعايت می شود.

**ماده هشتم:** وقت لازم برای صحبت حد اكثر پنج دقيقه است.

**ماده نهم:** خارج از آجندا صحبت صورت نمی گيرد. در صورت صحبت پيرامون موضوعات خارج از آجندا، توسط رئيس

او آدابو مخالفو کلماتو له کارولو څخه ډډه کيږي.

**يوولسمه ماده:** ټول بحثونه به پر اساسي قانون او نورو نافذه قوانينو باندې مستند وي.

دولسمه ماده: د دغه کړنلاروړ د اتمې، نهمې او لسمې مادې په اړه د غونډې رئيس د خبرو د قطع کولو صلاحيت لري.

**ديارلسمه ماده:** د کميسيون د غړيو خبرې د دارالانشاء د لوی رئيس په لارښوونه، د اسنادو او اړيکو د عمومي مدير له خوا لیکل کيږي او ضبط او ثبتيږي.

**څوارلسمه ماده:** هغه پايلې چې د غونډې د رئيس او يا منشي له خوا اعلانيږي، لیکل کيږي او ضبط او ثبتيږي.

**پنځلسمه ماده:** د غونډې منشي د غونډې خبرې اترې او د دارالانشاء د لوی رئيس خبرې توحيدوي او د هغه په استناد د غونډې مصوبه ترتيبوي او د دوو ورځو په ترڅ کې يې د کميسيون پر غړيو لاسليکوي.

**شپاړسمه ماده:** دغه کړنلاروړ په شپاړسو مادو کې په ۱۳۹۰/۵/۲ نېټه د کميسيون دغړيو له خوا تصويب او د کميسيون درئيس تر لاسليك وروسته نافذ دی.

جلسه صحبت قطع می شود.

**ماده دهم:** کلمات توهين آميز و خلاف آداب در مجلس استعمال شده نمی تواند.

**ماده يازدهم:** تمام مباحث مستند به احکام قانون اساسی و ساير قوانين نافذه صورت می گيرد.

**ماده دوازدهم:** در موارد مواد هشتم، نهم و دهم اين طرزالعمل، رئيس مجلس صلاحيت قطع صحبت را دارد.

**ماده سيزدهم:** صحبت های اعضای کميسيون تحت رهنمايی رئيس دارالانشاء توسط مدير عمومی اسناد و ارتباط تحرير، ضبط و ثبت می شود.

**ماده چهاردهم:** نتيجه گيری که از طرف رئيس مجلس و يا منشی اعلان می شود، تحرير، ضبط و ثبت می شود.

**ماده پانزدهم:** منشی مجلس مذاکرات انجام شده و ياداشت های رئيس دارالانشاء را توحيد کرده، به استناد آن مصوبه مجلس را ترتيب و در ظرف دو روز امضای اعضای کميسيون را اخذ می کند.

**ماده شانزدهم:** اين طرزالعمل در شانزده ماده به تاريخ ۱۳۹۰/۵/۲ توسط اعضای کميسيون تصويب و بعد از امضای رئيس کميسيون نافذ می باشد.